سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۲/۱۳

# هغه ځنګه او دا ځنګه؟؟

مـور خو حقداره ده بیشـکه، خو دا پلار ځنګه؟
پسرلی ښکلی دی خـو ژمی کی، روزګارځنګه؟

په پسـرلی کی خو ګلـونه وی، رنګونه ډیـر وی
خـو سـاړه ژمـي کی تـوده، غیـره د یـار ځنګه؟

هلته نـری هـوا چلـیږی، چمـن ښکلی ښکاری
دلته کړنګ ژمی کی د یار، سینه ګلـزار ځنګه؟

هـلـتـه خـو ډلي ډلـي ځـي، یـاران میلـو ته سره
دلتـه تـوده خـونـه کـی یـار تـه، انـتـظـار ځنګه؟

هلته شـپونکی که په رمـي، پسی شپیلی غږوی
دلتـه د شـپـي په انـګـازو کـی، یـکه زار ځنګه؟

د غرو لـمنـو کی که کیږی، آتـنـونه هلـتـه
دلتـه نغمي ګرمي حُـجـرو کـی، د سِـتـار ځنګه؟

هلته که خوند داوړدو ورځو، مازیګرکی وی نو
دلته د ډیـرو اوږدو شـپو، سـوځه سـهار ځنګه؟

ډیـر وایی دا چی ژمی، کم د پسرلی نه، نه دی
هلـته نشـي د یـار تـر ځنګ، دلـته خُـمار ځنګه؟

دا د «مړې ګيدې پاړسی ده»، کليوال وايی ډير

چی زړه يی ګرم وی دا وايی، هاغه خوار ځنګه؟

چی په تن پټ په ګيده موړوی، ژمی هم ښکلی وی

خو په تن لوڅ، په زړه رنځور، وږي نهار ځنګه؟

چی رنځور نه وی ورته يو دی، پسرلی او ژمی

خو چی توان د درمل نه لری، بيمار ځنګه؟

تورنتو ــ کاناډا ــ ۲۰۱۸/۱۲/۱۱

يادونه:

که چيری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری ليکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکی مقالی د «آرشيف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

هغه ځنګه او دا ځنګه؟؟

kliwal_s_hagha_singa_ao_daa_singa.pdf